**د افغانستان اسلامي امارت**

**د لوړو زده کړو وزارت**

**میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو موسسه**

**علمي او محصلانو چارو معاونیت**

**څیړنو او علمي مجلې آمریت**

# د علمي څیړنو کړنلاره (طرزالعمل)

## کال: ۱۴۴۴ هـ ق ۱۴۰۲ ه ش

**سریزه**

علمي څېړنې د پرمختګ او انکشاف لپاره د مهمو او اساسي فکتورونو څخه ګڼل کیږي. څرګنده ده چې په علمي، ټولنیز، فرهنګي او اقتصادي برخو کې پرمختګ او انکشاف نیغ په نیغه په څېړنیزو فعالیتونو پورې اړه لري. علمي څېړنې د هر هیواد او په ځانګړې توګه د لوړو زده کړو په برخه کې د دوامداره پرمختګ او انکشاف تضمین کوي. که څېړنه نه وي، علم او پوهه پراختیا نه مومي او د تحصیل د کیفیت د ټیټوالي سبب ګرځي. د نړۍ په کچه پوهنتونونه د علمي څېړنو د ترسره کولو له لارې د علم او پوهې د انکشاف مرکزونه دي. په همدې اساس د علمي څېړنو آمریت په ۱۴۴۴ ه ق کال کې د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو موسسې په چوکاټ کې رامنځته شو تر څو په یاده موسسه کې د علمي څېړنو د ترسره کولو لپاره مناسب چاپیریال منځته راوړي او د ټولنې د ستونزو د حل په موخه د معیاري او لوړکیفیته څېړنو د ترسره کولو له لارې د علم او پوهې په خپرښت کې اغیزمن رول ولوبوي. د یاد علمي څېړنو آمریت په چوکاټ کې د موسسې په کچه د علمي څېړنو کمېټه هم شتون لري چې د علمي څېړنو آمر په کې د کمیټې د مسؤل او له درې ګونو پوهنځیو څخه یو یو تن استاد، د کمیټې د غړو په توګه ګډون لري.

د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو موسسه کې اوس مهال د یو شمیر لوړ تحصیل لرونکو استادانو شتون چې د علمي څېړنو په برخه کې ځانګړی مهارت او معلوماتي تکنالوژۍته د لاسرسي لپاره پوره مهارت او امکانات لري، د دې مؤسسی د قوت له ټکو څخه ګڼل کیږي. د مؤسسی په کچه د علمي څېړنو آمریت او مرکز شتون د استادانو لپاره د علمي څېړنو د ترسره کولو په برخه کې د اسانتیاوو د رامنځته کولو لپاره یو ښه فرصت برابروي.

د څېړنې د کړنلارې (طرزالعمل) اصل هدف د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو موسسه د دې جوګه کول دي چې د پوهې د لاسته راوړلو، ستونزو ته د حل لارو موندلو او د هیواد د اړتیاو د پوره کولو په موخه په ملي کچه د معیاري څېړنو ترسره کولو ته زمینه برابره شي. د دې کړنلارې (طرزالعمل) پربنسټ د علمي څېړنو د میتودولوژۍ د زده کړې او د استادانو د څېړنیزو وړتیاو د انکشاف له لارې هڅه کیږي چې له یوې خوا د استادانو د علمي او اکاډمیک مکلفیت او مسؤلیت د پوره کولو او له بلې خوا د علمي او مسلکي پرمختګ او همدارنګه د نورو پوهنتونونو سره د هغوی د اړیکو د پیاوړتیا په لاره کې همکاري رامنځته شي چې دا کار به د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو موسسه د ستراتیژیک پلان د اهدافو د تحقق سره مرسته وکړي.

**په افغانستان کې د څیړنې اهمیت او اړتیا**

اکاډمیکې او علمي څیړنې د یو هیواد په تحصیلیي او زده کړ یزو نهادونو کی د ځان بسایني لپاره یوه ښه لار ده او په نړۍ کې د پرمختګ او هوساینې له مهمو شاخصونو او محورونو څخه ګڼل کیږي. هغه علمي لاسته راوړنې چې موږ او تاسې یې لرو د نورو علمي سرچینو د لوستلو او مطالعه کولو حاصل دی، او یا هم دا ډول علمي لاسته راوړنې هغه څیړنې دي جې موږ پخپله ترسره کړي. که چیری زموږ علمي لاسته راوړنې په تحلیل، تجزیه،نیوکه او د څیړنو په نویو نظریو باندې ولاړې وي نو ډاډه یو چې زموږ هڅې د علم په تولید بدل شوي، څرنګه چې د څیړنو اهمیت د نوی پوهې په تولید کې دی؛هغه پوهه چې وکړای شي یوه مسله حل کړي بنآ دا واقیعت (نوی پوه)هغه وخت تر څیړنې لاندې نیول کیږي چې د ټولنې حقایق او واقیعتونه په خپلو اطرافو کې د څیړنیزو پروژو په جوړښت کې په علمي ډول ترسره شي. د هیواد اوسني وضیعت ته په کتو ټول دولتي او خصوصي سازمانونه او ادارې په ځانګړي ډول تعلیمي او تحصیلي مرکزونه/نهادونه او د لوړو زده کړو موسسې د مختلیفو څیړنیزو مسایلو مخ

شوي/کيږي چې د څېړولو سره نيغ په نيغه اړيکه لري نو دڅېړنې د فرهنګ رواج کول او د څېړنيزو پروژو پلي کول د افغانستان د اکاډميکې حوزې جدي اړتياوې دي.

دا کړنلاره د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د څېړنو د مقررۍ له ۷ تر ۲۲ مادو او د لوړو زده کړو وزارت د کيفيت لوړولو او اعتبار ورکونې رياست د وړاندې شويو معيارونواو دميرويس خان نيکه زابل د لوړو زده کړو موسسې د ستراتيژيک پلان په پام کې نيولو سره تاکل شوي دي .

**د څېړنو او علمي مجلې آمريت پيژندنه Introduction**

ميرويس خان نيکه زابل د لوړو زده کړو موسسې **د** څېړنو او علمي مجلې آمريت د تحصيلې موسسې په کچه د علمي چارو د معاونيت تر نظارت لاندې د موسسې د اداري تشکيل په چوکاټ کې په ۱۴۴۴/۱۴۰۱.ه.ق کال د سنبلې په لومړۍ نيټه په فعاليت پيل وکړ .د اوس له پاره ئې په تشکيل کې آمر او د څېړنې عمومي مدير شتون لري ، د دې تر څنګ دموسسې په کچه د څېړنو د انسجام عمومي کمېټه هم شتون لري، چې په هغه کې د هر پوهنځي استازي ګډون لري چې په هره مياشت کې نوبتوار منظمي غونډې لري، چې د نوموړو استازو په وسيله په هر پوهنځي کې د څېړنو او علمي مجلې آمريت فرعي څانګې جوړې شوې دي.

## رسالت: Mission

په ملي او نړيوالو جورنالونو کې د باکيفيته څېړنو نشرولو لپاره د استادانو حمايه کول .

## لرلید: Vision

میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو موسسې د څیړنو او علمي مجلې مرکز به د هېواد  په کچه یو څېړنیز مرکز وي، چې د علمي څېړنو په وسیله به د هېواد د هوساینې او پرمختګ له پاره خدمتونه کوي.

## موخې: Objective

د څیړنو کلتور ته پراختیا ورکول

د څیړنو انسجام او  تنظیم

د څیړنو د فرعي کمیټو دندې او صلاحیتونه مشخصول

میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو موسسې څېړنیز فعالیتونو له پاره ممکنه اسانتیاوې برابرول او د څېړنیز فعالیتونو انسجام.

## دندې (مسؤلیتونه)

- پیش بیني شویو اهدافو ته د رسیدلو په موخه د علمي څیړنو آمریت د اونیزو، میاشتنیو ، ربعوار او کلنیو پلانونو ترتیبول.
- د پلان شویو اهدافو دتحقق په منظور د مؤسسې د علمي څیړنو د بورډ مشري کول او تر لاس لاندی پرسونل مدیریت.
- دموجوده لاربښودونو په نظر کې نیولو سره د حقوقي او مسلکي پلوه د مؤسسې د څیړنیزو او علمي برنامو کنټرول او نظارت.
- د څېړنو ترسره کوونکو استادانو ته د غوره او مؤثره څېړنو د سر ته رسولو په منظور د لازمو مشورو او څیړنیزو شرایطو برابرول.
- د نویو معلوماتو د آرایې او تدریسي کیفیت د ښه والي په منظور د علمي او څیړنیزو فعالیتونو کنټرول او نظارت.
- د هیواد څخه دباندې په علمي کنفرانسونو کې د ګډون کوونکو استادانو د تجاربو څخه د مؤثرې ګټې اخیستنې او د هغوی د ګزارشونو د ارزونې په منظور د علمي او څیړنیزو کنفرانسونو دایرول.
- د څیړنیزو او او نشراتي کمیسونونو د فعالیتونو کنټرول او نظارت او ژورنال کلب ته د اطلاعاتو او نویو موندنو د آرایه کولو په منظور د میاشتنیو کنفرانسونو په لاره اچول.

- د ښځينو موضوعاتو اړوند د داخلي او خارجي ښځينزو بنسټونو سره اړيکې تأمينول او د هغوی همکاري جذبول.
- د کاري کيفيت د کچې د لوړوالي په منظور تر لاس لاندې پرسونل د اجرآتو کنټرول او نظارت
- د دندې اړوند نورو هغو مسؤليتونه ترسره کول چې د اړوند آمر لخوا ورسپارل شوی وي.

**ارزښتونه : Values**

-اسلامي او ملي ارزښتونو ته درناوی.

-د ښځينې کلتور عامول.

-ګډ کار او تفاهم.

-نوښت او مثبت بدلون

## د ښځينو د فرعي کميټو دندې:

د پوهنځي په کچه د علمي کادر غړيو د ښځينو تنظيم

د ښځينو اړوند سمينارونه او ورکشاپونه اخيستل

د غونډو راپور د ښځينو مرکزي کميټې او د پوهنځي رياست ته ليږل

د استادانو د ښځينو منسجم او همغږي کول

د موسسې په کچه د نورو پوهنځيو د ښځينو د کميټو سره د ښځينزو موخو پخاطر دوامداره اړيکې

د ښځينو آمريت لخوا د پلان شويو سمينارونو او ورکشاپونو کې فعاله ونډه اخيستل

## د ښځينو آمريت مسلکي څانګې:

څېړنيز مرکز په لاندي پوهنځيو کي څيړنيزخدمتونه تر سره کوي، چي پر بنياد ئي د ميرويس خان نيکه زابل د لوړو زده کړو موسسې د څېړنو د تنظيم کمېټه جوړه شوې ده.

| | |
|---|---|
| ښوونې او روزنې پوهنځی | Faculty of Education |
| اقتصاد پوهنځی | Faculty of Economics |
| کرنې پوهنځی | Faculty of Agriculture |
| شرعياتو پوهنځی | Faculty of Islamic Studies |

## علمي برنامې

### لنډ مهاله برنامې:

**د څيړنې د فرعي کميټو رامنځته کول.**

**د استادانو او محصلانو لپاره سمينارونه ترتيبول او آرايه کول.**

**د علمي څېړنو په برخه کې سيمينارونه او ورکشاپونه اخستل.**

د علمي آثارو ژباړل.

د څیړنیز مرکز د اړیکو پراخول.

د استادانو د علمي آثارو او مقالو ډیټابیس جوړل.

دعلمي څیړنو پخاطر د اړونده ادارو سره توأمیتونه لاسلیک کول.

د استادانو د علمي لیکنو ارزونه.

د پوهنځیو د علمي څیړنو د کمېټو سره په ګډه کار کول.

د څېړنو د پایلو خپرول. دعلمي‌څیړنو په برخه کې د ظرفیت لوړول.

## اوږد مهاله برنامې:

دعلمي‌څیړنو د کمیټو څارنه کول .

څېړنیزې اړیکې د ولایت په داخل کی.

نړیوالې او ملي څېړنیزې اړیکې.

د څېړنو کلنی احصائیه.

**خېړنيزه ويب پاڼه.**

**د اړونده تېرو کړنو ارزونه.**

## د خېړنې اسانتياوې Research Opportunities

څېړنه هغه علمي کړنه ده چې خاصو مصارفو ته اړتيا لري، له ښه مرغه د افغانستان د اسلامي امارت په راتگ سره د لوړو زده کړو وزارت اوس پخپل بودجوي طرحه کي د څېړنې لپاره خاصه بوديجه اختناص کړې، همدارنگه ځيني باندني مؤسسات هم د څېړنې له پاره کار کوي لکهUSWDP, HEDP, World Bank,شته چې له امکاناتو څخه يې ميرويس خان نيکه زابل د لوړو زده کړو موسسېتر اوسه هيڅ کومه استفاده نه ده کړی .

**هغه اسانتياوې چيد خيړنو لپاره په مؤسسه کې شتون لري.**

**کتابتون** **Library )**

**انټرنيټ** **Internet )**

تفاهم لیکونه ( MoUs

## ظرفیت لوړونه (Capacity Building)

ظرفیت لوړونه د څېړنې په برخه کې د څېړنیز مرکز د ستراتیژیکو کړنو څخه ده، ظرفیت لوړونه به د څېړنو په مختلفو برخو کې تر سره کیږي تر څو استادان وکولاي شي په ډېر ساده ډول سره یوه باکیفیته څېړنه تر سره کړي او وکولای شي چې محصلان د څېړنیزو کړنو سره بلد کړي .څېړنیز مرکز به په خپل پنځه کلن ستراتیژیک پلان کې په لاندي پنځو برخو کې ظرفیت لوړونه تر سره کړي ، چې د هري کړنې لپاره به ځانګړې پالسیاني ولري.

**١: د څېړنیز پروپوزل برخي او لیکل ئې( Parts of Research Proposal and Writing a Research Proposal)**

**٢: د څېړني ډولونه ( Types of Research)**

**٣: د ډاټا ټولول، تحلیل، تجزیه او مسلکي لیکنه of Data Collection, Data Analysis, Interpretation and Technical Writing ) Data )**

**۴: .د علمي مقالو ډولونه او د هغه لیکل Types of Research Articles and Writing Methods )**

**۵: د علمي مقالو نشرول (Publication of Articles)**

**٦: روزنیز کورسونه**

دا چې څېړنه د یوه پوهنتون علمي اساس تشکیلوي ډېرې توجه ته اړتیا لري همدارنګه څېړنیز پروپوزل د هري څیړنې د ترسره کولو لپاره هغه لومړنې شرط دی چې د یوي څېړنې عملي کولو ته لاره هواروي، د هم دې موخې د لاسته راوړلو په اساس څېړنیز مرکز پلان لري چې د څېړنې د علمي کولو په موخه

د څېړنې د کمېټې لپاره  علمي سمینار د څېړنیز پرپوزل لیکنې په برخه کې د څېړنې آمریت/کمیټې د غړو لخوا  دایر شي، وروسته به نوموړی علمي سمینار د ګډون کوونکو له خوا د پوهنځیو څېړنو فرعي کمیټو او استادانو ته انتقالیږي، ترڅو د علمي سمینار موضوعات د خپلو اړوند پوهنځیو څیړنې کمېټو او استادانو ته په بشپړ ډول انتقال کړي.

**طریقه:**

د څېړنې کمېټې غړو ته ورکشاپ نیول، په دوهم پړاو کې به د پوهنځیو د څېړنو کمېټو ته تدریس کیږي او په دریم پړاو کې به د پوهنځیو ټولو استادانو ته تدریس کیږي . دباندنیو څیړنو په موخه  لوړو زده کړو وزارت محترم مقام څخه د غوښتل شویو پروګرامونو په اساس به ګډې څیړنې تر سره کیږي.

وخت:   ۱۴۰۳ ه ش کال د حمل میاشت.

**د څېړنې ډولونه  Research Types**

دا چې په نړیواله کچه ساینسي او اجتماعي علوم خورا ډېر دي، په همدې لحاظ په ټولو علومو کې یو ډول څېړنه صدق نه کوي .ددې لپاره چې کله یوه څېړنه تر سره کوو باید پوه یو چې د څېړنې کوم ډول پکاریږي .په همدې اساس څېړنیز مرکز پلان لري چې د څېړنې د عملي کولو په موخه د څېړنې د کمېټې، اړوند مرکز او استادانو لپاره علمي ورکشاپ د **څېړنې ډولونو** تر عنوان لاندې دایر شي  ترڅو د څېړنې کمېټه، د پوهنځیو څېړنیز مرکزونه او استادان په دې علمي برخه کې پوره معلومات تر لاسه کړي.

**کړنلاره:**

دا چي د مؤسسې د ټولو استادانو شمیر ( ۷۵ ) تنو ته رسیږي چي شاه او خوا ( ٦٠ ) تنه حاضر او پاتی نور د هیواد څخه دباندي د ماستری او دوکتورا په زده کړو بوخت دي .د حاضرو استادانو له پاره په ( ۲ ) پړاوه کي ورکشاپ تر سره کیږي چي په هر پړاو کي به ( ۲۰ ) تنه استادان ګډون کوي .د یوه پړاو د تکمیلیدو لپاره به وخت ( ۳ ) ورځی وي او د دوو پرا ونو تر منځ به وقفه ( ۱۵) ورځې وي تر څو مو د مؤسسې ټولو استادانو ته ورکشاپ د ( ۳ ) ورځو په جریان کي پای ته رسولی وي. لومړی به ورکشاپ د څېړنې کمیټې غړو ته ورکول کیږي، په دوهم پړاو کي د پوهنځیو څېړنیز کمېټو ته ورکول کیږي او په دریم پړاو کي د پوهنځیو ټولو استادانو ته ورکشاپ ورکول کیږي.

**وخت:**

د ورکشاپ د شروع نېټه ۱۴۰۳ ل کال دویمه ربعه

**ډاټا ټولول، تحلیل، تجزیه او مسلکي لیکنه**

**(Data Collection, Data Analysis, Interpretation and Technical Writing of Data)**

ډاټا ټولول، تحلیل، تجزیه او مسلکي لیکنه د څېړنیز مرکز او د څېړنې د تنظیم کمېټې یو د ظرفیت لوړونې د مهمو ورکشاپونو څخه شمیرل کیږي، که یو استاد او یا محصل یوه څېړنه تر سره کوي مجبور دی چي په ډاټا ټولولو، تجزیه کولو او د هغه په لیکنه پوه وي، تر څو معیاري څېړنه تر سره کړې وي .په همدې اساس څېړنیز مرکز او د څېړنو د تنظیم کمېټه پلان لري؛ چی د څېړنې د عملي کولو په موخه د څېړنې د کمېټې، اړوند مرکزونو او استادانو لپاره علمي سمینار **ډاټا ټولول، تحلیل، تجزیه او مسلکي لیکنې** تر عنوان لاندي دایر کړي ترڅو د څېړنې کمېټه، د پوهنځیو څېړنیز مرکزونه او استادان د څېړنې په دې علمي برخه کی پوره معلومات ولري.

**کړنلاره:**

د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو موسسې ټولو استادانو ته په ( ۱ ) پړاوه کي علمي سمینار تر سره کیږي چي په هر پړاو کي به ( ۳۰ ) تنه استادان ګډون کوي .د یوه پړاو د تکمیلیدو لپاره به وخت ( ۱) ورځ وي او د دوو پړاونو تر منځ به وقفه ( ۱۰ ) ورځې وي تر څو د موسسې ټولو استادانو ته سمینار د ( ۱ ) ورځو په جریان کي پاي ته رسولي وي. لومړی به سمینار د څېړنې کمېټې غړو ته تدریس کیږي، په دوهم پړاو کي به د پوهنځیو څېړنیزو کمیټو ته تدریس کیږي او په دریم پړاو کی به د پوهنځیو ټولو استادانو ته تدریس کیږي.

**وخت:**

د علمي سمینار د شروع نېټه ۱۴۰۳ کال لومړی ربعه

## د علمي مقالو ډولونه او د لیکلو طریقه

## (Types of Research Articles and Writing Methods)

د علمي مقالو ډولونه او لیکنه د څېړنیز مرکز او د څېړنې د تنظیم کمېټې یو د ظرفیت لوړونې د مهموعلمي سمینارونو څخه دی، کله چي یو استاد څېړنه تر سره کوي پایله یي د ټولنې سره شریکوي تر څو ټولنه عامه پوهاوی ولري .ددې لپاره چي د مقالی په لیکلو پوره پوه یو د یاد علمي سمینار دایرول اړین دي .په همدې اساس څېړنیز مرکز او د څېړنو د تنظیم کمېټه پلان لري چی د څېړنې د عملي کولو په موخه د څېړنې د کمېټې، اړوند مرکز او استادانو لپاره علمي سمینار د**علمي مقالو ډولونه او دهغوی د لیکلو طریقه** تر عنوان لاندي دایر کړی ترڅو د څېړني کمیټه او د پوهنځیو استادان د څېړنې په دې علمي برخه کی پوره معلومات ولري.

**طریقه:**

میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو موسسې محصلانو ته په ( ۱) پړاوه کي سمینار تر سره کیږي چي په هر پړاو کي به ( ۵۰) تنه محصلان ګډون کوي .د یوه پړاو د تکمیلیدو لپاره به وخت ( ۱ ) ورځ وي او د دوو پړاونو تر منځ به وقفه( ۱۰ ) ورځې وي تر څو مو محصلانو ته سمینار د ( ۱) ورځو په جریان کي پای ته رسولي وي.

**وخت:**

د سمینار د شروع نېټه ۱۴۰۳ کال په اوږدو

**د علمي مقالو نشرول (Publications)**

د علمي مقالو نشرول د څېړنیز مرکز ، د څېړنې د تنظیم کمېټې او د نشراتو کمېټې یو د ظرفیت لوړونې د مهمو سمینارو څخه دی، که یو استاد څېړنه تر سره کوي، اړ دی چي په نړیوالو جورنالونو کې د څېړنې پایله د مقالی په شکل وړاندی کړي .په همدې اساس څېړنیز مرکز او د څېړنو د تنظیم کمېټه پلان لریي چی د علمي مقالو د نشرولو په موخه د څېړنې د کمېټې او استادانو علمي سمینار د **مقالونشرولو** تر عنوان لاندي دایر کړی ترڅو د څېړنې کمېټه او نشراتو کمېټه په دې برخه کی پوره معلومات ولري.

**کړنلاره:**

د  میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو موسسې  ټولو استادانو ته په ( ۱) پړاو کي سمینار تر سره کيږي چي په هغه کي به (  ۲۰) تنه استادان ګډون کوي څو د موسسې ټولو استادانو ته سمینار د ( ۱ ) ورځې په جریان کي پاي ته رسولي وي.

**وخت:** د سمینار د شروع نېټه ۱۴۰۳ کال په اوږدو کی.

**د څیړنو کړنلاره د څیړنو او تحقیق د تنظیم کمیټې د ( ۱۴۰۱/۱۲/۱٦ ) نیټې په (۷) پروتوکول غونډه کې تایید او ثبت شوه.**

**د څیړنو کړنلاره د موسسې د علمي شورا د  ( ٦  /  ۹  /۱۴۴۵ ) نیټې په  ( ۹ ) پروتوکول غونډه کې تایید او ثبت شوه.**

**دلوړو زده کړو وزارت**

**میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو موسسه**

**علمي معاونیت**

**د څیړنې او علمي مجلې آمریت**

**د علمي کادر غړیو مقالو لیست چې په داخلي او خارجي ژورنالو کې نشر شوي.**

| شماره | د مقالې عنوان | د استاد پیژندنه | | | | د ژورنال پیژندنه | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | نوم | علمی رتبه | پوهنځی | دیپارتمنت | نوم | لینک |
| 1 | Synthesis and Application of Novel Magnetic Glycosuria Tetrakis(Meth | **بشیرالله دانش یار** | پوهنیار | ښوونه او روزنه | کیمیا | Polycyclic Aromatic | https://www.tandfonline.com/doi/abs/10.1080/10406638.2022.2126506 |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | ylene Pghosphorous Acid) as a Nano Biological Catalyst for the preparation of Nicotinonitriles via a Cooperative Vinylogous Anomeric-Based Oxidation. | |
| https://pubs.acs.org/doi/abs/10.1021/acsomega.2c06651 | ACS Omega | کیمیا | نبوونه او روزنه | پوهنیار | **بشیرالله دانش یار** | Application of Nono-Magnetic | 2 |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | Metal-Organic Frameworks in the Green Synthesis of Nicotinonitriles via a Cooperative Vinylogous Anomeric-Based Oxidation. | |
| https://pubag.nal.usda.gov/catalog/74288778 | Agricultural Research Journal | باغداري | كرهنه | پوهنيار | **رحيم الله همت خوا** | Effects of Individual Cluster Wrapping on Color Development | 3 |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | and Fruit Quality of Plame Seedless Grapes (V. Vinifera) | |
| | Helmand Academic and Research Journal | مالداري | کرهڼه | پوهنیار | **حاجي گل همت** | Pregnancy Diagnosis Bio-assay Methods in Cows | 4 |
| | Helmand Academic and Research Journal | مالداري | کرهڼه | پوهنیار | **حاجي گل همت** | Studying on Incidence of Cryptosporidium in Sheep and Goats | 5 |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| https://doi.org/10.48081/PAGF3408 | Sity Scientific Journal | بیولوژي | نبوونه او روزنه | نوماند پوهنیار | **حجت الله مخص** | The Health Benefits of Watermelon | 6 |
| https://jrasb.com/index.php/jrasb/article/view/603/561 | Journal for Research in Applied Sciences and Biotechnology | بیولوژي | نبوونه او روزنه | نوماند پوهنیار | **حجت الله مخص** | View of an Overview about the Influenza a Virus | *7* |
| https://oapub.org/edu/index.php/ejel/article/view/2475 | European Journal of English Language Teaching | انگلیسي | نبوونه او روزنه | نوماند پوهنیار | **عبدالنافع همت** | Investigating the Level of Test Anxiety in EFL Students' at Kandahar University, Afghanistan | 8 |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| https://www.cribfb.com/journal/index.php/aijssr/article/view/368 | American International Journal of Social Science Research | انگلیسي | ښوونه او روزنه | نوماند پوهنیار | **عبدالنافع همت** | Impacts of Formative Assessment on EFL Students' Academic Performance at Kandahar University | 9 |
| https://journalspress.com/LJRHSS_Volume20/781_The-Usage-of-Peer-Feedback-and-its-Influence-on-Afghan-EFL-Learners-Academic- | London Journal of Research in Humanities and Social Sciences | انگلیسي | ښوونه او روزنه | نوماند پوهنیار | **عبدالنافع همت** | The Usage of Peer Feedback and its Influence on Afghan EFL Learners' Academic Achievement at Kandahar | 10 |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Achievement-at-Kandahar-<br>University-Afghanistan.pdf | | | | | | University, Afghanistan | |
| http://cribfb.com/journal/index.php/aijssr/article/view/593 | American International Journal of Social Science Research | انګلیسي | ښوونه او روزنه | نوماند پوهنیار | **عبدالنافع همت** | The Effects of Facebook on Students' Social Life: A Case Study at Mirwais Khan Nika Zabul Institute of Higher Education, Zabul | 11 |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| https://www.cribfb.com/journal/index.php/aijssr/article/download/930/920 | American International Journal of Social Science Research | انګلیسي | ښوونه او روزنه | نوماند پوهنیار | **عبدالنافع همت** | Afghan Students' Purposes of Using Facebook at Mirwais Khan Nika Zabul Institute of Higher Education, Zabul, Afghanistan | 12 |
| https://cribfb.com/journal/index.php/aijssr/article/download/931/921 | American International Journal of Social Science Research | انګلیسي | ښوونه او روزنه | نوماند پوهنیار | **عبدالنافع همت** | Afghan Students' Satisfaction from Online Learning | 13 |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | During Covid-19 at Kandahar University, Kandahar, Afghanistan | |
| https://cribfb.com/journal/index.php/aijssr/article/download/931/921 | European Journal of Education Studies | انګلیسي | ښوونه او روزنه | نوماند پوهنیار | **عبدالنافع همت** | Impacts of Spelling Problems on EFL Students' Writing Skill at Kandahar University, Kandahar, Afghanistan | 14 |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| https://nujib.nu.edu.af/index.php/nuijb/article/view/42 | Nangarhar University International Journal of Bioscience | بیولوژي | نښوونه او روزنه | پوهنیار | **محمد خالد افغان** | The Effects of Resistance Training on Physical Performance in Obese Women after Bariatric Surgery | 15 |
| https://doi.org/10.1016/j.net.2023.05.015 | Nuclear Engineering and Technology | فزیک | نښوونه او روزنه | پوهنیار | **عبیدالله عبید** | Theoretical Studies on the Stabilization and Diffusion Behaviors of Helium Impurities | 16 |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| https://www.sciencedirect.com/science/article/pii/S0927775723016849?dgcid=coauthor | sciencedirect Elsevier | كيميا | نبوونه او روزنه | پوهنيار | **عنايت الله حقمل** | Synthesis of $Pb_xCu_{1-x}Bi_2O_4$ composites with enhanced visible-light-responsive photocatalytic degradation performance | 17 |
| https://www.sciencedirect.com/science/article/pii/S0927775723016849?dgcid=coauthor | sciencedirect Elsevier | كيميا | نبوونه او روزنه | پوهنيار | **عنايت الله حقمل** | Uncovering the influence of Ni-doping in CuBi2O4 photocatalyst on its visible light- | 18 |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | responsiveness for the efficient removal of toxic Alizarin yellow R dye from wastewater | |
| 2(1), 144-154. DOI: 10.59324/ejtas.2024.2(1).11 | European Journal of Theoretical and Applied Sciences | نبوونه او روزنه | نبوونه او روزنه | پوهنیار | **طاوس خان هیوادمل** | The Impact of Estrogen on Embryonic Development | 19 |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 21 | Investagating the Scientific Reason for the Earths Rotation around Its Axis | **خان محمد صابر او موسی خان خپلواک** | نوماند پوهنیار | ښوونه او روزنه | فزیک | Helmand Academic and Research National Journal | Received: 04-02-2024: Accepted: 01-04-2024 Article ID: 2-04-02 Volume 2: Issue: 4: 2024: Page No. 50- 58 |
| 22 | د غوښينو چرګوړو پر وده باندی د Vitamin Eاو Selenium د اغیزو مطالعه | **پوهنیار حاجی ګل همت او پوهنیار ګل نبی نوري** | پوهنیار | زراعت | مالداري | Helmand Academic and Research National Journal | Helmand Academic and Research National Journal Volume,3 Issue 2, p.p 42-56 September, 2024 |

**په پورته ډول د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو موسسې د علمي کدر غړیو هغه مقالې چې په ملي او بین المللي ژورنالو او مجلو کې نشر شوي ترتیب او صحت لري.**

**پوهنیار انعام الله عابد**

**د خیړنې او علمي مجلې آمر**